هاري واشنګټن ۱۹ / ۰۱ / ۲۰۰۹

# د اوباما راتګ د ارګ واکمنان لړزوي

په کابل کي د ارګ حاکمان باید وارخطا او اندېښمن وي ځکه د اوباما په اداره کي دکرزي لپاره هيڅ ځای نسته. هیله ده چي د کابل حکومت نور بېکاره او بدنامه مامورین هم ورسره یو ځای رخصت کړی سي. د کرزي ټېم په چارنېما او سالانه امتحانونو کي پرته له رسم او سپورټ څخه په نورو ټولو مضمونونو کي مطلق ناکامه دی. نو بنا، ښکار ده چي افغانان ژر تر ژره د نوي حکومت او نوي مشر په باب جدي فکر وکي، څو یو ځل بیا د ۲۰۰۱ او بیا ۲۰۰٤ غم لړلي کاني تکرار نه سي. هله پر افغان ولس باندي داسي مشران او حکومت تحمیل سو چي حتی د خپل ځان د چلولو جوګه هم نوو. د اقتَصاد جوړول، د ټولني پالل، د امنیت ساتل، د یو عالي سیاسي ارمان درلودل، او د ځان او د راتلونکې نسل لپاره څه کول خو د پېریانو خبري وې.

مطلب دا دی چي ښایي ډېر ژر افغانانو ته یو ځل بیا ددې فرصت برابر سي چي د خپل سیاسي ژوند او برخلیک د تنظیم او کنټرول لپاره څه وکړي. په بل عبارت، څه مثبت بدلون راوستل سي. څه ښه او منظم حکومت جوړ سي. نوې سیاسي مشري راسي. ښکار ده چي افغانان لدې موقع څخه استفاده وکي. واقعیت دا دی چي امریکا او بین المللي ټولنه د افغانستان پرله پسې ستونزو ستړي کړي دي. د نجات او خلاصون یوه لاره لټوي.

بلخوا، په واشنګټن کي بدلون په کابل کي سیاسي بدلون ضرور راولي ځکه جز د کل تابع دی. څرګنده خبره ده چي نوی مرکز نوي تقاضاوي او غوښتني لري. تېره اونۍ مېرمن هېلري کلنټن چي ډېر ژر به د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزیره سي، د سنا غړو ته پخپلي استعماعیې غونډې کي افغانستان "نارکو سټېټ" وباله. مېرمن کلنټن د افغانستان اوسنی حکومت " کمزوری، بې ظرفیته، او په اداري فساد کي ډوب وباله." تېر کال، ښاغلی بایډن د ښاغلي کرزي څرګندونو او لاپو شاپو دونه په غوسه کړ چي مجلس یې نېمکه پرېښود او له اطاق څخه ووت. د اوباما او کرزي وروستی ملاقات هم ترینګلي، سوړ، او د ښاغلي کرزي لپاره ډېر سخت وو. ټاکل سوېده چي په ملګروملتونو کي د متحده ایالاتو پخوانی سفیر، ریچارډ هولبروک، به د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکا خاص استازی ونومول سي. هغه د افغانستان دحکومت په باب ویلي وو: " حکومت کمزوری دی؛ فاسد او وروست دی؛ د افغانستان د سیاسي مشرتابه داېره او کړی خورا تنګه ده؛ حکومت تر اوسه پوري یو ستر قاچاقبر هم ندی توقیف کړی."

داسي ښکاري چي د اوباما او کرزي روابط به ډېر بحراني او توپاني وي. د بوش ماما نازونه، نغدي پیسې، او ښه او اسانه وختونه نور تېر او ورک خواړه خوبونه سول.

تر دې لنډې سریزي را وروسته، دلته یوازي دوو اخبارونو د رپوټونو اجمال راغونډ سوی دی.

د فاېنانشل ټایمز ورځپاڼه د جنوري پر ۱۵ لیکي: د افغانستان په متعلق د ښاغلي اوباما د اداري د پالیسۍ د را څرګنده کېدو په یوه ترڅ کي تېره اونۍ مېرمن کلنټن د متحده ایالاتو د سنا خارجه چارو جرګګۍ ته وویل:" لدې نه پس به متحده ایالات خپلي مرستي د افغانستان د مرکزي حکومت د اجراتو او لاسته را وړنو سره وتړلي. مانا دا چي د اداري فساد سره له مبارزې څخه را نېولې بیا په ټول هېواد کي د قانون حاکمیت او د امنیت خورول پکي شامل دي."

مېرمن کلنټن پخپلو څرګندونو کي ویلي دي: "افغانستان یو داسي حکومت ته اړتیا لري چي د خپلو خلکو غوښتنو ته جواب ولري. هغې زیاته کړه: ښاغلي اوباما همدا پیغام ښاغلي کرزي ته ورساوه." دپلوماتان وایي: لدې نه وروسته به متحده ایالات د یوه شخص پلوي نه کوي، بلکي دیموکراتیک پروسه به تقویه کوي. هغوی زیاتوي: هر څه به د جنوري پر ۲۱ باندي بدل سي.

بلخوا، د واشنګټن پوسټ مشهوره خبریاله، مېرمن پامېلا کانسټېبل، له کابل څخه د جنوري پر ۱٦ پخپل رالېږلي رپوټ کي لیکي: د متحده ایالاتو د نوې ستراتیژۍ سره د افغانستان په خلکو او حکومت کي داسي مخالفتونه را ولاړېږي چي


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

ښايي ددغي نوي ستراتيژۍ د عملي کېدو سرعت په داسي وخت کي سوکه او کرار کړي چي کاميابۍ ته د رسېدولو لپاره وخت نهايت محدود او مخ پر خلاصېدو دی.

امريکايي مامورين وايي يوه ستونزه د ملکي کسانو زياتېدونکي تلفات دي، او بل مشکل د خارجي قواوو سره د عامه افغانانو زياتېدونکی مخالفت دی. امريکايي چارواکي د بې ځايه توقع او انتظار پرخلاف خبرداری ورکوي او وايي: سږ کال به ډېر گران او سخت کال وي. په تشدد او جنگونو کي به زياتوالی راسي. لمړی به پراخي سيمي ازادېږي او بيا به هلته مرکزي حکومت خپله سطله خوروي، او وروسته به د بيا ودانولو کارونه پيلېږي.

ورځپانه ليکي: زياتره افغانان د شپې په تېارو کي د خارجي عسکرو ډارونکې چاپو او تلاښيو په تنگ کړي دي. بهرني کومندو عسکر د خلکو کورونو ته په توره تېاره کي نابېره ور اوړي. افغانان د امريکايي عسکرو پرله پسې تلاښيو او بمباريو سخت په غوسه کړي دي. زياتره افغانان له بهرنيو عسکرو څخه بېره او انديښنه لري. طالبانو ته د عامه افغانانو همدا بېزاري کورت او غوړي ده.

د لوگر ولايت پخوانی ۵۲ کلن گونر، فيضل الله مجددي، وايي: "کله چي خارجي عسکر په لمړيو ورځو کي افغانستان ته را داخل سول، هر افغان يې هرکلی کاوه. خو اوس د هيچا نه خوښېږي. خلکو اعتماد له لاسه ورکړ. خلک طالبان هم نه غواړي، او چپ ناسته دي ځکه هيڅوک د هغوی امينت نسي تضمينولای. که چيري طالبان په کلي کي راښکاره سي، هيڅوک حکومت ته خبر نه ورکوي، ځکه د بهرنيانو له بمباريو څخه ډارېږي."

واشنگټن پوست ليکي: پدې وروستيو وختونو کي، حامد کرزي هم ددغو تلاښيو او بمباريو پر خلاف سختي خبري کړي دي. مبصرين وايي: کرزي د انتخاباتو لپاره کمپين کوي. مگر امريکايي مامورين په خصوصي ناستو کي د خپل پخواني دوست په ارتباط له ډېر قهر او غضب څخه ربړ دي.

د واشنگټن د مقاماتو يو بل مشکل دا دی چي ايا د کابل وروست او فاسد حکومت تقويه کړي او که په ناکراره سيمو کي د قومي سياست په توره او ډارونکې خونه ور ننوځي. د کابل رژيم د ښاره بهر په کليوالي سيمو کي هيڅ صلاحيت نلري. امريکايان غواړي چي د عراق په شان قومي ملېشا جوړه کي. ځيني پدې عقيده دي چي محلي خلک د خپلو سيمو سره پوره اشنايي لري، او هغوی به د طالبانو لپاره زهر قاتل سي.

خو واشنگټن پوسټ ليکي د قومي ملېشا مفکوره د سختو مخالفتونو سره مخامخه ده. په پارلمان کي د کابل استازې، مېرمن شکريه بارکزۍ، وايي: " د قومي ملېشاو خلقول تباهي ده. څوک ددې ضمانت کولای سي چي هغوی به پخپلمېنځني شخړو اخته نسي؟ دا به مرکزي حکومت نور هم کمزوری کي، د ملکي خلکو ژوند به د خطرونو سره مخامخ سي. هيڅکوک به مسول نه وي. هيڅوک به کنټرول نلري."

د وردگ ولايت د قومي ملېشا د جوړولو لپاره لمړی ځای انتخاب سوی دی. ددغه ولايت استازې، مېرمن وردگ، وايي: "زما په ولايت کي، خلک د طالبانو تر چړې لاندي دي، مگر خلک پدې هم په غوسه دي چي امريکا غواړي د دوی په ولايت کي ملېشا جوړه کي. روسانو همدا کار وکی، او يو ورور يې د بل ورور سره وجنگوی. اوس د هر چا د تره او يا د ماما زوی په طالبانو کي دی. خلک به د مکتب يا بازار د ساتلو لپاره خپل زوی در کړی، خو هيڅکه به يې د طالبانو سره د جنگ لپاره در نه کړي."

اخبار ليکي: د طالبانو محلي رېښو او علايقو د متحده ايالاتو مقامات انديښمن کړي دي. د حکومت عسکر او پوليس ياغيانو ته ور اوړي. طالبان هغوی ته نغدي پيسې ورکوي. هغوی مشترک دين لري، او اکثرا د يوه قوم خلک وي.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de